مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق

۲۰۲۶/۰۲/۰۹

# خارج

## قصه په سلو ټکو کې

د ماښام د لمانځه له جماعته را ووتمه، سپین ږیری ګاوندی، حاجي لالا له نورو مشرانو سره ولاړ وو.

ما تې وویل:

«وایي خارج ته روان یې، وطن مور ده، غیرت دئ، ناموس دئ او تې پرېږدې. خارج کي به نو چرګان پاکوې یا به سپي مینځې!»

خارج ته راغلم.

کال ورسته مې اقامت واخیست، وطن ته ولاړم. حاجي لالا غته مېلمستیا راته وکړه.

د ډوډی تر خوړلو وروسته ئې پیاله له شنو چایو را ډکه کړه، نُقل ئې په لاس کي راکړ، ول:

«د یو ښه قاچاقبر شمېره را پیدا کړه، له کورنی سره غواړم ولاړ سمه خارج ته!»

محمدسمیع صادق



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ